بيان الإسلام

Bayan AL-Islam

# اسلام

## د الله د رسولانو دين دى

اسلام د الله د رسولانو دين دى

الإسلام دين رسل الله - بشتو

# اسلام

د الله د رسولانو دین دی

**اسلام** د کائناتو خالق او د چارو سمبالوونکي ذات ته د محبت او تعظیم له مخې تسلیمېدلو ته وايي. د اسلام اساس په الله جل جلاله ایمان لرل دي، او دا چې هغه خالق دی او له هغه پرته نور هرڅه مخلوق دي، او دا چې هغه یوائې د عبادت وړ دی او هېڅ شریک نلري، له هغه پرته په حقه هېڅوک د عبادت وړ ندی، د هغه لپاره خورا ښکلي نومونه او لوړ صفتونه دي، او هغه مطلق ذات دی چې له هرې نېمګړتیا پاک دی، نه يې څوک زېږولی، نه له چا زېږېدلی او نه کوم سیال او برابر لري، له خپلو مخلوقاتو څخه په هېڅ شي کې نه منحل کیږي.

اسلام د الله تعالی هغه دین دی چې له هغه پرته بل هېڅ دین له خلکو څخه نه مني او دا هغه دین دی چې ټولو انبیاوو علیهم السلام راوړی دی.

د اسلام له بنسټونو څخه یو په ټولو پیغمبرانو ایمان راوړل دي، او پدې چې الله جل جلاله خپلو بندګانو ته د خپلو احکامو رسولو لپاره پیغمبران رالیږلي، او پر هغوی یې کتابونه نازل کړي دي، د هغوی وروستی پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم دی، چې الله تعالی د وروستي الهي شریعت سره رالیږلی، شریعت یې د مخکنیو ټولو قوانینو لغوه کوونکی دی، الله تعالی یې په لویو معجزو سره ملاتړ کړی، چې



ترټولو ستره معجزه یې قرآن کریم دی؛ د رب العالمین کلام، تر ټولو ستر کتاب چې بشریت پېژندلی، د محتوا، الفاظو او نظم له اړخه عاجزه کوونکی دی، پدې قرآن کې حق ته لارښوونه ده چې انسان د دنیا او اخرت خوشحالیو ته رسوي، او تر نن ورځې پورې په

عربي ژبه ساتل شوی په کومه چې نازل شوی دی، او هېڅ یو توری پکې بدل شوی نه دی. او د اسلام له بنسټونو

ځخه په ملائکو ایمان او

د اخرت په ورځ ایمان راوړل دي

چې الله تعالی به د قیامت په ورځ خلک له قبرونو ځخه د اعمالو حساب ورکولو لپاره راپورته کوي، نو چا چې نیک عملونه کړي وي او مؤمن وي، د هغه لپاره به په جنت کې تلپاتې نعمتونه وي، او څوک چې کافر شوی وي او بد عملونه يې کړي وي نو هغه ته به په اور کې ستر عذاب وي، او د اسلام له بنسټونو ځخه ایمان راوړل په هغه خیر او شر چې الله تعالی مقدر کړي وي.



او مسلمانان په دې باور دي چې عیسی د الله بنده او د هغه رسول دی او د الله زوی نه دی؛ ځکه چې الله جل جلاله لوی دی، شوني نده چې هغه دې مېرمن یا زوی ولري، مګر الله تعالی موږ ته په قرآن کې فرمايلي چې عیسی - علیه السلام - یو پیغمبر و، الله تعالی هغه ته ډېرې معجزې ورکړې وې او الله تعالی هغه خپل قوم ته د بلنې په خاطر ورلېږلی و چې د یو الله عبادت ته يې راوبلي؛ هغه ذات چې شریک نه لري، او موږ ته يې فرمایلي چې عیسی له خلکو نه و غوښتلي چې د هغه عبادت وکړي بلکې

هغه پخپله د خپل خالق بنده کي کوله.

الإسلام

او اسلام یو داسې دین دی چې له فطرت او سالم عقل سره برابر دی، او عادي نفسونه يې مني، لوی الله خپل مخلوق ته د قانون په حيث رالیږلی، دا د ټولو خلکو لپاره د نېکمرغۍ او خوښۍ دين دی، هېڅ ټبر ته پر بل غوره والی نه ورکوي، او نه يو رنګ ته پر بل رنګ باندې، ټول خلک پکې برابر دي، په اسلام کې هېڅوک په بل چا غوره والی نه لري مګر د نيک عمل په اندازه.

هر عقلمند انسان بايد پر الله د رب، پر اسلام د دين او پر محمد - صلی الله عليه وسلم - د رسول په حيث ايمان ولري، دا هغه مسئله ده چې انسان پکې هېڅ اختيار نه لري (بايد دا کار وکړي)، ځکه چې الله تعالی به د قيامت په ورځ ترې پوښتنه کوي چې د رسولانو بلنې ته يې څه ځواب ویلی و؛ نو که مؤمن و بريا او ستره سوکالي به يې په برخه شي، او که کافر و نو له ښکاره زيان سره به مخ شي.

او څوک چې اسلام کې د داخلېدو اراده ولري نو

﴿أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدًا رسول الله﴾

**(أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدًا رسول الله)**

دې ووايي، پداسې حال کې چې په معنا يې پوه وي او ايمان پرې ولري، نو پدې سره به مسلمان شي؛ بیا به د اسلام نور قوانين ورو ورو زده کوي، تر څو هغه کارونه تر سره کړي چې الله تعالی پرې فرض کړي دي.

# اسلام وپیژنئ

## له ۱۰۰ څخه په زیاتو ژبو

موسوعة القرآن الكريم
QuranEnc.com

له (۷۵) څخه په زیاتو ژبو د قرآن کریم د معناګانو کره ژباړې.

بيان الإسلام
byenah.com

پـه ۱۲۰ ژبـو کـې د اسـلام پیژندنـې او زده کـړې لپـاره غوره شوي توکي.

موسوعة الأحاديث النبوية
HadeethEnc.com

له (٦٠) څخه په زیاتو ژبو د نبوي حدیثونو او شرحو کره ژباړې.

ما لا يسع أطفال المسلمين جهله
kids.islamenc.com

له (٤٠) څخه په زیاتو ژبو د کوچنیانو او عامه مسلمانانو لپاره سوالونه او ځوابونه.

موسوعة المحتوى الإسلامي باللغات
islamcontent.com

له (۱۲٥) څخه په زیاتو ژبو ډول ډول او هر اړخیز اسلامي توکي.

موسوعات وخدمات إسلامية باللغات
s.islamenc.com

د نـورې پـه ژبـو د لا زیاتو ویب پاڼو لپاره:
(s.islamcontent.com)

جمعية الدعوة وتوعية الجاليات بالربوة

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات